ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

# د خوشحال خان خټک او بهرام خان د اختلافاتو يوه اجمالي څېړنه

A brief research review of the dissension between Khushal Khan khattak and Bahram Khan

شهباز محمد [1]
ډاکټر بادشاه روم [2]

**Abstract**

Khushal Khan Khattak, the eminent Pashto poet and leader, has vividly portrayed numerous aspects of his sons' lives in his poetry, documenting their birth, education, training, and practical endeavors. Among his sons, Bahram Khan stands out as a significant yet divisive figure, whose involvement in political affairs from the early days of Khushal Khan's leadership led to frequent conflicts and disagreements with his father.

This article explores the intricate dynamics of the father-son relationship, focusing on their differences and political rivalries. By examining these aspects, the study provides a deeper understanding of the familial and political tensions of the time. This research will serve as a valuable resource for both researchers and students, offering insights into the interplay of personal and political relationships in Khushal Khan's era.

**Keywords:**

Khushal Khan, Pashto, Poet, Leader, Numerous, Sons, Bahram Khan, Divisive, Figure, Involvement, Political affairs, Conflicts, Disagreements, Father-son relationship, Differences and Political rivalries

خوشحال خان خټک يو ګڼ اولاده شخصيت وه ، چې د زوزاد شمېر ئې د سلو نه زيات دے . الله هغه ته د لوړو دسره سره زامن هم ورکړي وو ، چې مشر زوے ئې اکبرخان نومېدو ، څوک چې د زوکړې په اوومه ورځ ومړو ، دده نه پس بيا اشرف خان زېږېدلې دے او په دريمه نومره بهرام خان د خوشحال خان په انغري سترګې غړولې دي . د دوست محمد خان کامل د وينا ترمخه

" بهرام خان، ربيع الاول په مياشت کال ۱۰۵۳ هـ يعنې مئ جون ۱۶۴۳ء کښې زېږېدلے وُ. دَدهٔ دَ زېږون ماده تاريخ "بخت بابا آمد" دے. [1]

خوشحال بابا دَ بهرام خان دَ پېدائش قطعه په فارسۍ کښې داسې وئيلې دي:

---

[1] پي ايچ ډي سکالر شعبه پښتو يونيورسټي آف ملاکنډ

[2] ايسوسي ايټ پروفيسر شعبه پښتو يونيورسټي آف ملاکنډ

"دریا و الف ماه ربیع الاول
بهرام آمد بروئی رخشنده چو ماه
تاریخش شد که بخت بابا آمد
زین جمله شود جیم هزار و پنجاه"[2]

دَ "ی" او "ا" نه یوولسم دَ ربیع الاول جوړېږي او دَ "بخت بابا آمد" نه ۱۰۵۳ هـ ق کال رااوځي کوم چې دَ دېرشم مئ کال ۱۶۴۳ء برابر دے۔

دَ خوشحال بابا دَ مغلو سره دَ شخړو، دَ پښتنو دَ نورو قبيلو سره دَ دښمنو او جنګونو تاريخ ته دَ رسېدو دپاره زمونږ سره چې کومه واحده ذريعه يا ذريعې دي، هغه دوه دي۔ يو دَ خوشحال بابا ديوان يا کليات او دوېم تاريخ مرصع۔ بله داسې هېڅ ځه ذريعه نشته چې هغه غبر جانبداره وي او پکار راوستې شي۔ تر دې حده چې دَ پښتنو په دې سيمه دَ خوشحال بابا کوم جنګونه يا دَ مغلو خلاف او يا دَ مغلو په پره کومې خبرې مونږ ته په دغه ذکر شوو دوه منبعو کښې په لاس راځي۔ دَ مغلو په خپلو ليکلي تاريخونو کښې دَ هغوي دغسې ذکر نشته۔ ان تر دې چې په مآثر الامراء کوم چې دَ مغلي حکمرانانو او دَ هغوي دَ ملګرو مستند تاريخ ګڼلے شي، هم دَ خټکو دَدې مشرانو ذکر نۀ لري، ځکه نو مونږ مجبوره يو چې دَ خوشحال بابا خپل کلام او دَ هغۀ دَ بياض په بنياد دَ افضل خان مرتب شوي تاريخ مرصع ته رجوع وکړو۔ خو دلته هم دا ياد لرل پکار دي چې دَ بهرام خان او دَ افضل خان دَ پلار اشرف خان تر مېنځه په اقتدار جنګ ؤ۔ بيا دغه جنګ افضل خان ته هم په ميراث کښې پاتې ؤ۔ په دغه جنګ کښې دوي يو اځې تورې پکار نۀ دي راوستي، دَ قلم په ژبه ئې هم دائمي جنګ کړے دے۔ دلته دا سوالونه سر وهي چې افضل خان چې دَ خپل دښمن په حقله ځه ليکلي دي نو آيا دا سل په سله صحيح دي او که نۀ، دښمني ئې پکښې پاللې ده ۔ دغه رنګ دَ خوشحال بابا په کلام کښې افضل خان ګوتې وهلې کنه!!! درېم دا سوال چې بهرام

خان پخپله لیکوال ؤ او کنه؟ دَ پرېشان خټک په قول خوشحال بابا خو دَ هغهٔ دَ لیکوالۍ ګواهي ورکوي:

"عطارد دي نور قلم دَ لاسه کېږدي
چې په دا خوبۍ بهرام انشاء املا کا"[3]

اوس چې خوشحال بابا دَ قول مطابق بهرام لیکوال ؤ نو دَ هغه شعر یا نثر چرته لاړل. داسې خو نهٔ ده چې هم دے افضل خان دَ دښمنۍ په ترخ کښې دَ بهرام کلام منظوم یا منثور ضایع کړے ؤي چې دَ هغهٔ دَ مخالفې ډلې څه ثبوت پاتې نهٔ شي.

دلته دَ یوې خبرې وضاحت ضروري ګڼم او هغه دا چې په کلیات کښې دَ خوشحال بابا دا غزل دَ سر نه تر اخره پورې چې اته شعرونه لري، ټول دَ بهرام خان په ذم کښې راغلے دے[4] دَدغه مذکوره شعر نه دَ هغه دَ ښه صفت معنیٰ سمه نهٔ ده. ځکه خو ډاکټر دریاب صبب هم دَ دوست محمد خان کامل په دغهٔ شان رائې نیوکه کړې ده چې ګنې بهرام دَ لیکنې او املا دَ فن ډېر مهارت لرلو. دوي لیکي چې:

"دَ عطارد په لړ کښې وئیلې شي چې دا (د) اسمان منشي دي او دَ زمکې اوسېدونکو په اړه چې کومې فېصلې دَ بره نه لاندې راځي نو هغه هر څه عطارد لیکي او هغهٔ ئي انشاء کوي. په دې تناظر کښې چې مونږ دَدې شعر مطلب ته ځان رسو نو په ډېره واضحه ډول دا معنیٰ ښندي چې عطارد دې دَ خوشحال دَ ژوند په بابله نورې فېصلې نهٔ تحریر کوي ځکه چې بهرام خان په زمکه دَ خوشحال بابا دَ ژوند فېصلې کوي او دغه کار هغهٔ په ډېره خوبۍ تر سره کوي".[5]

دَ افضل خان دَدغه تاریخ مرصع او دوېم ثبوت ترمخه مسلسل بهرام خان په بده یادولے شي. کردار کشي ئې کولې شي او که دَ بهرام خان په حقله دَ تاریخ مرصع نه صرف کنځل راغونډ کړې

شي نو شاید چې یو ورکوټې شان جدا کتابګے ترې ساز شي۔ زمونږ هر یو محقق هم حواله در حواله هاغه رائې نقل کوي ۔ دَ کومو بنیادي منبع چې دغه یاد کړې شوے تاریخ مرصع او کلیات خوشحال دي۔ ځکه خو پرېشان خټک هم په دې لیکلو مجبوره شوے دے:

"بہرام خوشحال خٹک کا وہ بیٹا ہے جس کی سوا تین سو سال سے متواتر کردار کشی کی جا رہی ہے۔ اس کی بنیاد یا تو تاریخ مرصع ہے یا خوشحال خان خٹک کا کلام"۔[6]

ژباړه: بهرام دَ خوشحال خټک هاغه زوے دے دَ چا چې څه کم دَ درې سوه کاله نه په یوه مخه بد وئیلي شي۔ دَدې بنسټ یا خو تاریخ دے او دَ خوشحال خان خټک کلام

-

او دَ تاریخ مرصع په باره کښې بیا لږ ورپسې داسې لیکي:

"جہاں تک تاریخ مرصع کا تعلق ہے اس میں افضل خان نے بیشتر حصہ خوشحال کی اپنی تحریروں سے ترتیب دی اہے اور پھر اپنی طرف سے بھی کافی کچھ لکھا ہے۔ یہ ایک نادر تاریخی نسخہ ہے جس سے ہمیں بہت سی معلومات فراہم ہوتی ہیں لیکن اکثر مواقع پر جب خوشحال خان خٹک کے کلام اور اس سے منسوب کردہ تاریخ مرصع میں اس کی تحریر میں فرق سامنے آجاتا ہے تو یہ شک گزرنے لگتا ہے کہ افضل خان کی حقایق نگاری کو بھی مسخ کیا ہے اور جو کچھ اپنی طرف سے لکھا ہے اس میں تو بار بار حقایق سے انحراف کرکے تاریخ کا دھارا اپنی مرضی کے مطابق موڑنے کی کوشش کی ہے۔ مگر جہاں بہرام خان کا ذکر ہے وہاں صریحاً کردار کشی کے علاوہ کچھ نہیں۔ اس کا اندازہ اس سے لگایئے کہ بہرام کے نام تک سے گالی باندھ کر دیا گیا ہے اور ہمیشہ بہرام بدفرجام کہہ کر پکارا گیا ہے"۔[7]

ژباړه: تر څو پورې چې دَ تاریخ مرصع خبره ده، په دې کښې افضل خان زیاتره برخه دَ خوشحال دَ لیکلو نه ترتیب کړې ده او بیا ئې له خپله اړخه ډېر څه لیکلي دي۔ دا یوه کمیابه تاریخي نسخه ده۔ دَ کومې نه چې مونږ ته ډېر معلومات په لاس راځي خو په اکثرو ځایونو کښې دَ خوشحال خان خټک په کلام او دَ هغې سره په تاریخ

مرصع کښې په منسوبو واقعاتو کښې فرق ښکاره کېږي. نو ځکه شک کولې شي چې افضل خان دَ خپلو ذاتي او سیاسي غرضونو دپاره دَ حقیقت لیکل وران کړي دي او کوم څه چې ئې دَ خپل لورې نه لیکلې دي نو په هغې کښې په یوه مخه دَ حقیقت نه مخ اړولے او تاریخ ئې دَ خپلې مرضۍ مطابق کړے دے او کوم ځاے چې دَ بهرام خان ذکر راځي، هغلته ما سیوا دَ هغهٔ دَ بې عزتۍ نه نور هېڅ نشته. اندازه له دې نه اولګوئ چې چرته هم دَ بهرام نوم راغلے، دَ هغې سره ئې کنځل انخلولي دي او همېشه ئې په بهرام بدفرجام یاد کړے دے.

دَ پرېشان خټک په شان دغه تنقیدي سوچ او حقایقو ته دَ رسېدو کوشش خواجه محمد سائیل هم کړے دے.[8] خواجه سائیل لیکي:

"مونږ که دَ خوشحال دیوان یا تاریخ مرصع اوګورو نو شاید چې دَ نیکه او نمسي دَ قلم نه داسې کنځل او سپک الفاظ پاتې شوې دي چې دَ بهرام خان په نصیب رسېدلي نهٔ وي".[9]

دَ خواجه سائیل دا خبره بالکل حقیقت ده. دَدې تائید دَ افضل خان دَ کتاب او خوشحال بابا دَ کلیات نه چې کله حوالې ورکولې شي ، کېږي. خو تر دې وخته پورې چا هم دَدغهٔ دوه مستندو محققینو په خبرو غوږ نهٔ دے ګرولے او لکه دَ اردو دَ محاورې " نقارخانے میں طوطی کے بول" په مصداق خبره راغله او لاړه تېره شوه. دغه خبرې به هله حل کېږي چې کله دَ خوشحال بابا اصل کتاب بیاض تر لاسه شي او یا دَ هغهٔ دَ کلیات هاغه نسخه یا نسخې په لاس راشي کومې چې افضل خان نهٔ دي مرتب کړي او یا ورته دَ هغهٔ لاس نهٔ وي ورسېدلے. بهر حال تر هغه وخته مونږ مجبوره یو چې هم دغهٔ موجودو نسخو ته ځېر شو.

بهرام خان دَ خوشحال بابا دوېم زوے ؤ. دَ بهرام خان دَ مور دَ کنهې زنهې په بابله استاذ ډاکټر علي خېل درياب دَ راوړتې په حواله لیکلي چې دَدهٔ مور الک خېله ښیني خټکه وه.[10]

دوست محمد خان کامل مومند لیکي:

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

"اس کی شہرت کا باعث وہ بدنامی ہے جو اس نے اپنے عظیم القدر باپ کے خلاف شیوہ تمرو وناخلفی اختیار کرنے کی وجہ سے حاصل کی۔ خان علیین مکان نے "بخت بابا آمد" اس بدبخت کی پیدائش کا سال لکھا تھا اور خدا کی شان دیکھئے کہ باپ کا بدبخت ثابت ہوا"۔[11]

ژباړه: دَدهٔ دَ شهرت باعث هاغه بدنامي ده کومه چې دهٔ دَ خپل لوے قدرمن پلار په خلاف دَ هغهٔ په نافرمانۍ او ناخلفۍ اختیارولو ګټلې وه۔ خان علیین مکان دَدهٔ دَ زیږون دَ کال ماده دَ "بخت بابا آمد" (بخت بابا راغے یعنې نېک مرغه راغے) لیکلې ده او دَ خدا ے تعالیٰ قدرت ته وګورئ چې دَ پلار دپاره بدبخته ثابت شو۔

دَ خوشحال بابا دَ کلام دَ داخلي شهادتونو نه دا نتیجه راویستل څه ګرانه نهٔ ده چې بهرام خان دَ خوشحال بابا په وینا یو ناخلفه، بې وفا او غدار زوے ؤ۔ په تاریخ مرصع کښې دَدهٔ په اړهٔ دَ خوشحال بابا الفاظ داسې رانقل کړې شوي دي:

"په بدفرجام کښې دا څو خویونه جبلي پراته وو۔ مخیل، مزور، مکار، مفسد، منافق، فضولي باجود دَ حماقت دا حال ذاتي لري"۔[12]

خوشحال بابا چې دَ مغلو دَ بنده راخلاص کړے شو، سرداري دَدهٔ دَ مشر زوي اشرف خان په لاس کښې وه۔ بهادر شاه ظفر لیکي چې:

"اشرف خان که دَ مغلو منصبدار او په ظاهره کښې دَ پلار نه مخالف او دَ هغهٔ دَ پالیسۍ نه ویزاره ؤ۔ ولې په ځرګنده ئې دَ پلار مخالفت ته ملا نهٔ تړله او کله چې به ئې مخالفت اوکړو نو بیا به ئې دَ پلار نه معافي غوښتله۔ ولې بهرام خان دَ مغلو منصب ته ډېر لېواله ؤ۔ په دې لړ کښې هغهٔ دَ ورور لحاظ کولو او نهٔ دَ پلار۔ ځکه مغل حاکمانو بهرام خان دَ خپل مطلب سړے ګڼلو او دَ اشرف خان په رویه بې اعتباره وو"۔[13]

بهرام چرې هم دَ اشرف خان سره نهٔ ؤ جوړ۔ دَ بهرام سره خپل ترونه هم په دغه سازش کښې ملګري وو، دهٔ دَ مهابت خان سره پټې مالګې ماتې کړې وې۔ دَ خوشحال بابا زوم او دَ شېخ رحمکار

رحمه الله مشر زوے شیخ ضیاء الدیین هم ورسره ملګرے ؤ۔ بهرام خان په دې تاک کښې ؤ چې خپل پلار خوشحال خان او مشر ورور اشرف خان دواړه ترلي مغلو ته حواله کړي او پخپله په دغه اقتدار قابض شي۔ تاریخ مرصع دغه حالات په دې الفاظو کښې خوندي کوي۔ لیکي:

"بهرام بدفرجام چې هیڅ مناسب ئې نۀ ؤ، شیخ ضیاءالدین دَ هغو عاصیانو په بد راهۍ چې دَ بهادر خان او فیروز خان سره مله وو۔ نفاق ئې اغاز کړ، بنګالي خان دَ مهابت خان وراوره چې بهرام ئې ورسره کړے ؤ په یو وخت دَ یوسفزي ملکان ئې شاهجهان اباد لره دَ بادشاه په ملازمت بیولي وو۔ په وسیله دَ هغې اشنایۍ لا مهابت تر اټکه رپاورې نۀ ؤ چې مذکور ئې ورسره کړے ؤ چې که ملک دَ اشرف خان و ماته راکړے پلار ورور مې درتلونکي نۀ دي۔ زۀ به درشم دولت خواهي به دې هسې وکړم چې دواړه به لاس نیولي درکړم۔ سبحان الله په جهان دا هسې بلا هم پیدا کېږي چې دَ فاني دنیا دپاره دَ مشر ورور په مرګ راضي شي۔ زمونږ په زړۀ کښې وهم فکر اصلاً دا هسې نۀ ؤ بلکې ضیاءالدین چې په کور راګډ ؤ زوم زوے مې ؤ۔ همېشه به دَدۀ له غمخورو وم۔ دے مې خپل دوست ګاڼو۔ دَ هغۀ به مې په څو دا اندنېښنه وه۔ واړه ئې خپل ځبله بېزار کړل۔ دَ بهرام بدفرجام سره ئې ودرول۔ مهابت خان سره پروانه بهرام ته ورکړه چې که پلار ورور دستګیر کړے او یا ئې وشاړې یا ئې ووژنې ملک دې تا دے"۔[14]

او هم په دغه ترڅ کښې بهرام خان په سرائے حمله کړې وه۔ بهرام او اشرف خان سره مخامخ شو۔ بهرام ئې ګېر کړو خو دَ وروری خیال ئې اوساتو۔ ژوندے ئې پرېښود۔ بهرام دا ووئیل چې بابا لره به درومو او چې هغۀ څه فېصله اوکړه هغسې به کوو۔ تاریخ مرصع دا هم لیکلي چې خوشحال ورته په سرور مېلې کښې انتظار کوو۔ په ضیاءالدین پسې ئې جوابونه کول خو هغۀ دَ لیت و لعل نه کار اخیستو او په اصل کښې دَ بهرام لګرے ؤ۔ خبره چې بیا جنګ ته اورسېده نو خوشحال اشرف خان منع کړو۔ مغل هسې هم دَ بهرام په حمایت وو۔ بهرام دَ ځیني خټکو په ملګرتیا حاکم شو۔ خبره یو وار بیا جنګ ته اورسېده۔ دَ اشرف خان او خوشحال خان ملګرو کمزورتیا ښکاره کړه۔ خوشحال بچ شو۔ په کال ۱۰۹۲ هـ کښې صوبه دار امیر خان دَ بادشاه په اجازت اشرف

خان په پېښور کښې ګرفتار کړو او هند ته ئې بندیوان ولېږلو۔ څوارلس کاله دَ بېجاپور او ګوالیار په زندانونو کښې ؤ او هم دغلته په بیا په ۱۱۰۶ھ کښې وفات شوے ؤ۔

اګر چې خوشحال بابا دَ اشرف خان نه خفه ؤ خو دَدهٔ په ګرفتارۍ ورته لوے درد رسېدلے ؤ ۔ دغه درد دَ هغهٔ په کلام کښې محسوسېږي۔ کوم چې دَ اشرف خان دَ سرخط لاندې لړ وړاندې درج شوے دے۔

بهرام خان ته مېدان خالي پاتې شو۔ خوشحال بابا په دغه مهال دَ یو عجیبه کېفیته تېرېدو ۔ دَ خټکو قبیله هم دَ دوي په خپل مېنځ کښې دَ جنګونو نه تنګه راغلې وه۔ خوشحال دَ مزید خون خرابۍ نه دَ بچ کېدو او امن قایمولو په مجبورۍ دَ بهرام سردارۍ ته غاړه کېښوده او بهرام ته ئې په یوه قصیده کښې دغه هر څه وړاندې کړه او نصیحت ئې ورته اوکړو چې بس کړه اوس نور قلار شوه۔ د ځلوېښتو شعرونو په دې قصیده کښې هغهٔ دَ پلار په حېث بهرام ته لارښودنه کړې ده:

"زما زړهٔ دَ چا نه روغ نهٔ دے بهرامَ
دَ هر چا سره مې زیست دے له ناکامهَ
نوکري څواني دا دواړه لکه بام دي
په پېرۍ کښې له ما لاړله دواړه بامِ
اوس دا دواړه بامه ستا دي ننداره کړه
غافل مهٔ شه یو زمان تر صبح و شامَ
په دا اوښ باندې چې ستا کجاوه ایښې
رسوه ئې چې پرې نهٔ وزې تر مقامَ
څو دې دا ننداره شي شکر وکاړه
په چا نهٔ وي دا خوښي علیٰ الدوامَ
تولا تبرا بویه په اسلام کښې
چې ئې نهٔ وي هغهٔ نهٔ دے له اسلامَ

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

اهل شر ته دَ شاهین منګل پېدا کړه
اهل خېرو ته حلیم شه تر حمامَ
څو دې توان توفیق رسېږي بېرون مهٔ شه
په هر دم دَ پښتانهٔ له ننګ و نامَ
په فرمان دَ بادشاهانو څه باور دے
چې بتر دے دَ قاضیانو تر اعلامَ
دَ مغلو دولت ګواه اوسه څو ژوې
و نفرو ته ئې هم کړه سل سلامَ
دَ هغهٔ په فېروزي په جهان نهٔ وي
چې ئې وخوري دَ چا مالګه کا حرامَ
که دې زړهٔ وي چې به پائې لکه خضر
دَ نېکۍ نوم ژوندے دے تل مدامَ
تهٔ دَ چا و جام ته هیله امید مهٔ کړه
حریفان دې باده نوش وي ستا له جامَ
دَ کنګاش دَ پرخاش ښه ځوانان پېدا کړه
چې پرې چار دَ ملک و مال شي انتظامَ
خوره خوروه غوټه ساته دَ کار دپاره
کامراني شي دَ دنیا له سر انجامَ
ښه سردار وته دَ نوم خزانه بویه
که نور هېڅ ورڅخه نهٔ وي بې له نامَ
ورکول توري وهل دا واړه بویه
چې پرې چار دَ سردارۍ شي انصرامَ
یا تکیه دَ خدائے ده یا دَ توري

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

په جرګو مرکو به نۀ شي کار تمامَ
که سردار دَ خلقو زر لري هنره
بندوبست دَ عالم نۀ شي بې صمصامَ
رخنه ګر دَ ملک په خونه کښې ماران دي
چې ماران دَ خونې شته خو بې کدامَ
که دې نقش دَ تورې کښېني راته غوږ کړه
کام روا به شي هاله له هره کامَ
رعایت له رعیته سره ښه دے
دا هاله چې بېرون نۀ وي له احکامَ
چې خلاف دَ حاکم کا خلاصے ئې نۀ وي
رعیت په لږ ګناه له قتل عامَ
دَ ختکو نه مې هومره زړۀ ناخوښ دے
چې توبه دَ همګي ختک له نامَ
دَ نعمت په قدر هېڅ خبردار نۀ دي
نوم ختک بۀ مې خلاص نۀ وي له انعامَ
دَ وفا په ځاے همه واړه جفا دي
چې به ماته رسېدو له خپله قامَ
ختک واړه دد و دام دي که ئې ګورې
څوک به څه غواړي خپلوي له دد و دامَ
چې ئې خوښ کړې یا ئې دوست کړې لا بله شي
دَ ددانو څه غرض له احترامَ
که زمونږه خانه نۀ وې ختک ورک وو
دَ خواجه په نوم اصیل دي څو غلامَ

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

که په توره ختک خپل کړي ګندي خپل شي
ګڼه هېڅ به ئې خپل نهٔ کړې له اکرامَ
اول خپلې خپلخانې وته نظر کړه
چې په لاس واړو نیولې ده څه خامَ
اتفاق دَ خپلخانې عجب دولت دے
په نفاق ئې واړه ووزي له ارامَ
همګي شهد و شکر قند و نبات دي
هېڅ برهم مهٔ شه دَ ورونړو له دشنامَ
چې په شرم نام و ننګ سره شریک وي
په هر کا وبله نهٔ وي بې آلامَ
څو جفا دَ خپلو وړي هومره به ښاد شي
که دَ خپلو جفا سخته وي مدامَ
دَ ګلاب دَ ګلو هومره اغزي یاد وي
څو ئې بوي راغلے نهٔ وي تر مشامَ
ښه ځوانان به خپل هوډ پرې نهٔ ږدي له لاسه
که ئې سر شي دَ خوني مزري تر ژامَ
که تل توري غشي خوري ماتې دَ جنګ وړي
مرد به سوړ نهٔ شي په زړهٔ له انتقامَ
کلیله دمنه به څو کړې راشه ګوره
چې څه دُر مې درته توي کړه له کلامَ
چې دي زړهٔ هغه ګوهر به پکښې مومې
که پرې پوهه شې له اغازه له انجامَ"[15]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

خو بهرام دَ خپل نابغه روزګار پلار په نصیحتونو هېڅ غور اونهٔ کړولو۔ بلکې دَ هغهٔ خلاف ئې کاروایانې نورې هم زیاتې او تندې کړې۔ مغلو ته دَ ځان نور ښه ښکاره کولو په غرض ئې خپل پلار ګرفتارول غوښتل چې هغوي ته ئې حواله کړي۔ په دې غرض هغهٔ په هېڅ ځیز هم سرپه نهٔ کوله۔

خوشحال په خپله دغه فېصله زر پښېمانه شو او وې وئیل چې:

"دَ خوشحال عقل خطا نهٔ ؤ نور څهٔ ؤ
چې خاني ئې په بهرام کړله نامزده"[16]

بل ځاے خوشحال بابا دَ بهرام دَ هغهٔ په نزد ، دغه نالایق داسې ستائي:

"تا هنر دَ سرداری نهٔ زده بهرامه
سرداري دې په خپل دور کړه بدنامه
هم تمامې خېلخانې لره بلا شوې
هم خپل ځان لره بلا شوې بدفرجامه
تا طاهر دَ کم عقلۍ په جرګو مړ کړ
اوس فارغ شوې دَ طاهر له انتقامه
تا خپل ځان لره دَ مرګ رخنه پېدا کړه
خېلخانه دې په بد خوي کړه بې ارامه
په دا هسې بد خويۍ بې بخته نهٔ يې
چې لا نهٔ يې دَ خوني هاتي تر ژامه
مشر ورر دې په زندان کړ تهٔ خاني کړې
دا خاني دې شه په ځان پورې حرامه

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

چې خانۍ ته دې هوس دَ زړۀ په زور کړ
لا ځائې وه ستا دَ زړۀ اندېښنه خامه
نور دې نوم زما دَ زویو په شمار مۀ شه
دَ خوشحال ختک وېنا په دا تمامه"[17]

بهرام خپل زوے مکرم خان په خپل پلار پسې اولېږو چې گرفتار ئې کړي. دغه دَ خوشحال دَ ژوند اخرۍ شپې ورځې وې. راورتي لیکي:

**"Mukarram went as directed, against his grandfather; but the brave old chieftain, who had attained his 77th year, having discovered as party from the place of his retreat, advanced to meet them with his drawn sword in his hand, at the same time to quote the words of Afzal Khan, his grandson, already alluded to, who subsequently wrote a history of these events exclaiming whoever are men amongst you, come to the sword, if you dare; but veneration for the aged chieftain who so predominant in every one's breast, what no one would make any attempt to lay hands on him".**[18]

ژباړه:لکه څه رنګې چې مکرم خان ته هدایت شوے ؤ، هم هغه شان دَ خپل نیکه خلاف لاړو خو بهادر بوډا سردار چې په دغه مهال اویا کلن ؤ، دَ خپله ځایه دَ یوې ډلې سره راووت. توره په لاس مقابلې ته راوړاندې شو او هم دلته هاغه الفاظ لیکلے شي کوم چې دَدغه نمسي افضل خان لیکلي دي، چاته چې وړاندې اشاره شوې ده چې دَدغه واقعاتو تاریخ ئې لیکلے دے. " چې هر څوک چې مردان یاستئ تورې ته رائیشئ" دَ خان ادب په هر چا غالب ؤ اګر چې هغه بدبخت وئیلي وو، دَ چا دَ لاسه نۀ کېده.[19]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

مکرام خان له بیا هم دَ خپل نیکه نه حیا و راغله او دغه رنګ ناکامه واپس لاړ شو او په خپل نیکه ئې لاس اوچت نهٔ کړو خو چې پلار لره واپس راغے۔ پلار پرې غصه اوکړه چې ولې مو داسې پرېښودو۔[20]

دَ خوشحال دَ ژوندي یا مړ نیولو دپاره دغه رنګ دَ بهرام له اړخه څو څو کوششونه اوشو خو چې هغهٔ ته به مخامخ شو، زړهٔ به ئې پرې اونهٔ کړې شو۔ دَ بهرام په دغې تسلي نهٔ کېده۔ په پېښور کښې موجود مغلي ګورنر ته ئې پېغام اولېږلو چې:

**"The old lion was at length at bay; and requested him to send a sufficient escort to take charge of him and conduct him to Peshawar".**[21]

ژباړه: بوډا ازمرے مې دستګیر کړے دے۔ حفاظتي دسته راواستوه چې په حواله ئې کړې شي او پېښور ته ئې بندي درولي۔

خوشحال خټک هم په دغسې خرابو حالاتو کښې دَ دنیا نه لاړو۔ دغه کال ۱۶۸۹ء ؤ۔[22]

دَ خوشحال په کلیات کښې دَ بهرام خان او عالمګیر په حقله دومره څه دي چې باید دَ نور چا په ذم کښې به ه دومره مقدار کښې نهٔ وي۔ دَ افضل خان دَ لیک مطابق دَ ځنکدن په مهال خوشحال بابا چې بهرام متعلق کوم وصیت کړے ؤ، هغه په تاریخ مرصع کښې داسې لیکلے شوے دے:

"په وخت دَ نزعت هر چې فرزندان ورته ټول وو هغو ته ئې دا وصیت وکړ چې که مو بهرام وړاندې وروستو په لاس کښېوځي مړ ئې کړئ نیمائي ئې دې ما سر ته نیمائي ئې دې ما پښتو ته وسیزئ۔ هاله به دې ما روح له تاسو خوشنود شي"۔[23]

اوس دا نصیحت یا وصیت په حقیقت کښې دَ خوشحال بابا ؤ او کنه؟۔ دا خبره په هاغه ځاے شکمنه کېږي کله چې خوشحال بابا مړ کېدو نو وئیلې شي چې دَ هغهٔ سره خپل زامن خوا

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

کښې نۀ وو۔ دا خو دَ افضل خان سولولي دروغ معلومېږي۔ پرېشان خټک په دې الفاظو داسې تبصره کوي:

"افضل خان نے حسب معمول غلط بیانی سے کام لیتے ہوئے تاریخ مرصع میں لکھا ہے جو بیٹے اس کے ساتھ تھے ان سے مرتے دم وصیت کی اگر بہرام تمہارے ہاتھ آجائے تو اس کے دو ٹکڑے کرکے آدھا میرے قبر کے سر کی طرف اور آدھا پیر کی طرف گاڑ دو۔ حالانکہ سارے حالات، واقعات سے پتہ چلتا ہے کہ مرتے وقت اس کے پاس اپنے بیٹوں میں سے کوئی بھی موجود نہیں تھا"۔[24]

ژباړه: افضل خان دَ خپل عادت مطابق دَ غلط بیانۍ یعنې دروغو نه کار اخیستے دے او په تاریخ مرصع کښې ئې لیکلي چې کوم زامن دَ هغۀ (خوشحال خان) سره وو، دَ مرګ په مهال ئې هغوي ته دا وصیت اوکړو چې که بهرام په لاس وراغے نو دوه ټوټې به ئې کړئ نیم به ئې زما دَ قبر سر لوري ته او نیم پښتو ته ورښخ کړئ۔ حالانکه دَ ټولو حالاتو او واقعاتو نه معلومېږي چې دَ مرګ په وخت دَ هغۀ سره یو زوے هم موجود نۀ ؤ۔

دلته افضل خان دا نصیحت والا خبره په دې هم دروغ ثابتېږي چې کومه مرثیه چې دَدۀ خپل پلار اشرف خان په زندان کښې لیکلې ده۔ عجیبه دا خبره ده چې دَ خپل پلار لیکلي هم دغه مرثیه افضل خان په خپله په تاریخ مرصع کښې هم رانقل کړې ده، کومه چې دَ افضل خان دَ خبرې په خپله رد کوي۔

هجري چې په زندان دننه دَ پلار دَ مرګه خبر شو، په دغه غم کښې ئې دوه مرثیې وئیلې دي ۔ یوه قیصده مرثیه دویشت اشعار لري او بله یو کوم پنځوس ۔ ۔ ۔ ۔ دَ "ه" په پټۍ کښې ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ دَ وړومبۍ قصیدې نه څو اشعار دلته نقل کولې شي:

"همه غم لره موجوده دا فنا ده
په خط ئې تل ژړا کمه خندا ده

نه نۀ ځاے دَ خندا نۀ غلط مې اووې
بلکه دا همه ژړا لره پېدا ده
دَ امان لورې به چرته وي عالمه!
دلے دواړه دَ مرګي شو و غوغا ده
یعنې نن هغه امام دَ ننګیالیو
په ډنبره غریب لاړ ډکه ئې خوا ده
مسافر شو هغه شیر دَ جبالونو
چې زهره څنې اوبه دَ اورنګ شاه ده
نۀ ئې زویه پرې حاضر نۀ برادر ؤ
ساه ئې قبضه دَ غمونو په صحرا ده
نۀ ئې مخ دَ خپلو اولېډو په سترګو
نۀ ئې کړے چا په رنځ کښې دلاسا ده"[25]

دَ اخري دوه شعرونو نه صفا جوته ده چې دَ مرګ په مهال هېڅوک زوے هم دَ هغۀ په خوا کښې نۀ ؤ او هېڅوک داسې نۀ وو چې هغۀ ئې په دغه سخت وخت کښې دلاسه ورکړې وې.

دا هم صحیح ده چې اشرف خان هم خپل پلار ته ډېر تکالیف پېدا کړي وو خو دَ خوشحال دَ خپل کلام په رڼا کښې لکه هغۀ چې دَ بهرام په ناکړدو اشرف خان معاف کوي:

"په دا هومره قباحت اشرف عاق نۀ شو
چې بهرام دا هسې عاق شو څه حکمت دے
چې و عقل ته دَ دواړو نظر اوکړې
پروت دَ دواړو په وجود کښې حماقت دے
دَ بهرام تیرے په دا دے په بدئ کښې

چې لړلے دَ دنیا په محبت دے
لکه نیت دَ بهرام څه ؤ هسې اوشو
دَ سړي دَ چارې کل مدار په نیت دے
چې خپل پلار شړي په تورو په لښکرو
په دا هسې زویه سل ځله لعنت دے
که څوک شته چې په دا چارو نظر وکه
ځاے دَ پند و نصیحت ځاے دَ عبرت دے"[26]

"نۀ دا یو عیب زما نۀ ډېر هنره
چې بهرام زما پسر زۀ ئې پدر یم"[27]

"بهرام که زوے دَ خوشحال ختک ؤ
هنر ئې نۀ ؤ ځنې خبر واخلہ"[28]

"بهرام غر دَ خیبر آباد په حماقت دے
آبِ سیند دَ خیبر آباد دے په دروغه"[29]

"بهرام ښځه ده بدرنګه
رنګا رنګ زېور پرې پورې "[30]

"بهرام وته وګوره
درست بنده دے دَ خپل کام"[31]

"چې بهرام څنې پېدا شو
ما وې غېڼ مې دے کافر"[32]

"بهرام هغه خنزير دے
چې لايق دے دَ تفنګ"[33]

"خو يو بهرام دے په خوي ناخيز دے
لکه ناخيز دے هسې ناخيز اوسه"[34]

هغه زويه خو په ګور ښه دے خوشحاله
چې بهرام غوندې يوائې په خپل کور وي"[35]

"له خوشحاله ئې بهرام غوندې پېدا کړو
دام واهه نۀ شي څوک څه وائي يزدان ته"[36]

"دَ بهرام له حاله څه وايم و چاته
حال دَ خپل زويه ښکاره دے و بابا ته"[37]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

"راشه ګوره دَ بهرام دَ نفاق چر
ګاه سني ګاه رافضي ګڼې کافر"[38]

"دَ خوشحال عقل خطا نۀ ؤ نور څه وو
چې خاني ئې په بهرام کړله نامزده"[39]

"بهرام هم کار فرما دے
هم کارکن دے زړۀ پرېشان"[40]

"په بهرام باندې چې وار راغې اوس ګوره
چې ئې څه رنګه بدنام کړۀ دا نامدار"[41]

"څوک بهرام غوندې منحوس بدبخت بخيل شي
په شامت ئې خېلخانه شي تار په تار"[42]

"دَ خوشحال په دعا غوړو سترګې اوکړه
که بهرام، عابد دې دواړه کر و کور"[43]

"لکه عابد وکړه يا بدفرجام وکړه
دا حال په هر چا دے که په خوشحال شو"[44]

"بهرام خان دے سعادت دے هم یحییٰ دے
په خصلت کښې سره یو تر بل بدتر"[45]

"مصطفیٰ وته وګوره
په بهرام وکړه نظر"[46]

"په دا هومره قباحت اشرف عاشق نۀ شو
چې بهرام دا هسې عاق شو څه حکمت دے"[47]

"یو ځله هم نۀ خطا، خطا کرت کرت
واړه مشرانو اشرف خان، بهرام سعادت"[48]

"که دَ چا دَ لاسه و مرم ګمان مۀ کړه
چې بهرام سدو به جوړ کا دَ چا ځلې"[49]

"دا هم ځاے دَ تعجب دے که پوهېږے
چې لښکرې په خوشحال کا بهرام خان"[50]

"دَ بهرام لښکرے پروتے په تیرې دي
امید دے چې خداے ئې زر کا شرمسار"[51]

"شوم بهرام مې دَ ځان غم شو
زۀ هم غم دَ دۀ دَ ځان شوم "[52]

"که خوشحال به په دنیا لري څو کاله
سکه بهرام به ته تېر نۀ خږي تر سرۀ کال نه"[53]

"زما زړۀ دَ چا نه روغ نۀ دے بهرامَ
دَ هر چا سره مې زيست شي تر ناکامَ"[54]

"زما توبه ده دَ بهرام له خېره
دَ دۀ له شره امان پناه غواړم "[55]

"پاڅېدو بهرام ته په دا مېنځ کښې يو غېرت
درست اولس ئې ټول کړ په نړۍ راوخت
تشے سر هوا غوټې دَ باز نۀ وي خصلت
باز نۀ وۀ باز رنګ وۀ چې ښکاره ئې شو حالت"[56]

ددغه پورته بحث په رڼا کښې مونږ په دې نتيجه رسو چې بهرام خان د خوشحال خان په زامن کښې د لوے سياسي تدبر خاوند وه . په دې چې هغه که يو خوا د خوشحال خان خټک غوندې د ستر او معتبر پلار په ځنو کارونو نيوکې کولې نو بل پله ئې د خپل حق د غوښتنې جسارت هم کولو . بله دا چې په دغه لړ کښې ئې ځانله ډله هم لرله او خټکو يو شمېر کسان ئې ملګري هم وو ،

او هم دا وجه وه چې د پلار خلاف ئې یو شمیر جنګونه کړې دي او پلار ته ئې بلها مشکلات پیدا کړې دي . دغه رنګ د شیخ رحمکار کاکاصېب د زوي ضیاء الدین د هغه ملګرتیا کول ددې خبرې دلیل دے چې د بهرام خان په مبارېزه کښې تر ډېره حده وزن وه ، ګڼې دومره پاک سړي بیا ولې د هغه تر اخري حده پره کوله او عن' چې په دغه ملګرتیا اشرف خان هجري په ډېر اذیتناک مرګ اووژنو.

د بهرام خان دغه کردار ته که هرڅوک په هر نظر ګوري خو دده شخصیت داسې یکسر رد کول او په هغه لعن طعن لېږل سم نه دي . زه بهرام خان معمولي نه بلکې غېر معمولي شخصیت ګڼم چې د هر رنګه مخالفتونو باوجود ئې هم د هغه وخت په سیاسي میدان او قبیلوي ژوند کښې ځان فعال او ګړندے ساتلې دے .

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1, 2024

## حواله جات (References)

[1] کامل، دوست محمد خان مہمند، خوشحال خان خٹک سوانح حیات، ص۲۸۹
[2] بادشاه روم، ډاکټر (علي خېل درياب)، خوشحال او شخصيات، دَ افغانستان دَ اسلامي جمهوري دولت دَ علومو اکاډمي دَ اطلاعاتو او اړيکو رياست، ۱۳۹۹ هـ ش، ۲۰۲۱ ز، مخ ۴۵۷
[3] پریشان خٹک، پشتون کون، ص ۴۵۱
[4] خټک، خوشحال خان کليات، مرتب دوست محمد خان کامل مومند، مخ۲۵
[5] بادشاه روم، ډاکټر (علي خېل درياب)، خوشحال او شخصيات، مخ ۴۶۲
[6] پریشان خٹک، پشتون کون، ص ۴۵۱
[7] همدغه اثر، مخونه ۴۵۱-۴۵۲
[8] سائل، خواجه محمد، خوشحاليات او حقايق (انتقادي جاج)، پخپله، جنوري ۲۰۰۶ء، مخونه ۴۲۳-۴۲۴
[9] همدغه اثر، مخ ۴۲۳
[10] بادشاه روم، ډاکټر (علي خېل درياب)، خوشحال او شخصيات، مخ ۴۵۷
[11] کامل، دوست محمد خان مہمند، خوشحال خان خٹک سوانح حیات، ص۲۸۹
[12] خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ ۳۵۳
[13] ظفر، بهادر شاه، کاکاخېل، پښتانهٔ دَ تاريخ په رڼا کښې، مخونه ۶۲۴-۶۲۵
[14] خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ ۳۵۲
[15] خټک، خوشحال خان، دَ خوشحال بابا کليات، ډاکټر يار محمد مغموم خټک، مخونه ۱۹۹-۲۰۰
[16] بادشاه روم، ډاکټر (علي خېل درياب)، خوشحال او شخصيات، مخ ۲۵۹
[17] خټک، خوشحال خان کليات، مرتب دوست محمد خان کامل مومند، مخ۱۸۳
- خټک، خوشحال خان، دَ خوشحال بابا کليات، ډاکټر يار محمد مغموم خټک، مخونه ۶۳۴-۶۳۵
[18] *Reverty, H.G, Selections from the Poetry of the Afghans, p 249*
[19] خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ ۵۴۰
[20] همدغه اثر، مخ ۵۴۰
[21] *Reverty, H.G, Selections from the Poetry of the Afghans, p* ۱۴۶
[22] ظفر، بهادر شاه، کاکاخېل، پښتانهٔ دَ تاريخ په رڼا کښې، مخ۶۲۷
[23] خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ ۵۱۶
[24] پریشان خٹک، پشتون کون، ص ۵۷۰
[25] هجري، اشرف خان، ديوان، تحقيق ترتيب او سمونه همېش خليل، مخونه ۳۱۱-۳۱۲
[26] ظفر، بهادر شاه، کاکاخېل، پښتانهٔ دَ تاريخ په رڼا کښې، مخ۳۲۷

[27]بادشاه روم، ډاکټر (علي خېل درياب)، خوشحال او شخصيات، مخ ۴۵۷
[28]همدغه اثر، مخ ۴۵۷
[29]همدغه اثر، مخ ۴۵۸
[30]همدغه اثر، مخ ۴۵۸
[31]همدغه اثر، مخ ۴۵۸
[32]خټک، خوشحال خان کليات، مرتب دوست محمد خان کامل مومند ، مخ۹۰۱
[33] همدغه اثر، مخ ۸۵۱
[34]ديوان خوشحال خان خټک، ترتيب حاجي پردل خان، دوېمه حصه، مخ ۶۸
[35]همدغه اثر ، اوله حصه، مخ ۴۸۰
[36]خټک، خوشحال خان، دَ خوشحال بابا کليات، ډاکټر يار محمد مغموم خټک، مخ ۵۱۵
[37]خټک، خوشحال خان کليات، مرتب دوست محمد خان کامل مومند ، مخ ۶۵۶
[38]همدغه اثر، مخ ۹۱
[39]سائل، خواجه محمد ، خوشحاليات او حقايق، مخ ۴۲۵
[40]خټک، خوشحال خان کليات، مرتب دوست محمد خان کامل مومند ، مخ ۴۲۵
[41]همدغه اثر، مخ ۸۳۰
[42]همدغه اثر، مخ ۵۱۷
[43]همدغه اثر، مخ ۸۹
[44]همدغه اثر، مخ ۷۱۴
[45]همدغه اثر، مخ ۹۲
[46]همدغه اثر، مخ ۸۵۲
[47]همدغه اثر، مخ ۸۶۲
[48]همدغه اثر، مخ ۸۳۹
[49]همدغه اثر، مخ ۸۷۱
[50]همدغه اثر، مخ ۲۲۶
[51]همدغه اثر، مخ ۵۱۸
[52]همدغه اثر، مخ ۸۲۴
[53]همدغه اثر، مخ ۸۲۷
[54]همدغه اثر، مخ ۵۶۰
[55]همدغه اثر، مخ ۶۸۹
[56] همدغه اثر، مخ ۹۳۹